دغه لوی عالم اسلامي نړۍ ته پخپلو کتابونو بشپړه لارښوونې کړې، او په اجتماعي، اقتصادي، ثقافي او اخلاقي ساحو کښې يې د قرآن مجيد او محمدي سننو په رڼا کښې هغو ته يوه عملي مسعوده نړۍ ښودلې ده.

دده په لسهاو کتابونه زموږ د ايراني وروڼو له خوا په فارسي ترجمه شوي - خداى دې ليا هم توفيق ورکړي چه د حقايقو غوښتونکو خوانانو لپاره دلارې څراغونه دي.

دى په ۱۹۵۴ کال کښې، وروسته له دې چه ناصر د نجيب څخه قدرت په لاس ورووړه، عمري بندي شو، او اته کاله ئې په بند کښې تېر کړل. وروسته د ډاکټرانو په توصيې د ټټر د مرض له لېکه خوشې شو. خو ده د خپلې جسمي مريضۍ پرځاى د خلکو روحي ناروغيو علاج ته توجه وکړه. او بيا هم د ښوونې او تبليغ څخه وانه وښت.

دى دوه کاله خوشې شوى وو، او بيا زندانى شو، هغه تورونه چه پرده لګول شوي، هسې خوسا او د روغجن تورونه دي، چه زياتې يې د استعمار رنګ او خوند اخيستى او څرګ نښې غولولاى.

دى د "اجتماعي دلو" دلارښوونکي په نامه او د (المعالم في الطريق)



Marfat.com

# موږ څه وايو او څه غواړو؟

## نوی ژوند - ښه نړۍ

## داسلامي ژوندانه د نوي کولو لزوم او اړتيا

کله چې موږ د "اسلامي ژوندون" د نوي کولو خبره منځ ته راولو او وايو چې اسلامي ټولنه دې بيا له سره جوړه شي نو يوه ډله خلک په دې خبره باندې خواشيني کيږي او داسې گمان کوي چې ددې موضوع د عملي کېدلو په صورت کښې به په يو شمېر خلکو باندې ظلم او تېرې وشي او يا به په اجتماعي روابطو کښې خلل او گډوډي پيښه شي، مگر حال دا دی چې داخبره په هېڅ ډول سره داسې نده، او شک نشته چې په دې خبره باندې د خپګان ښکاره کول د اسلامي ژوندانه او ټولنې د څرنګوالي په حقيقت باندې د نه پوهېدلو څخه پيدا شوېدی.

کله چې موږ نوی ژوند او ښه نړۍ غواړو او وايو چې ښنائی اسلامي



Marfat.com

ژوند له سره شروع شي، په حقیقت کښې د اجتماعي او کلي عدالت د هغه
بشپړه صورت او کامل مصداق موجودیت غواړو چه هیڅ یو بل اجتماعي
ښوونځی او طرز العمل کولای نشي چه هغه عملي کړي او په دې ذریعه
د ټولنې ټول غړي او طبقات دیو ډېر ښه او نیک مرغه ژوند تر سیوري
لاندې راولو. نني نړۍ په فکري او اجتماعي بحرانو کښې اخته دی او
د خپلو قوانینو او سیستمونو په اوضاعو او شرائطو کښې د ناقرارۍ او
مشکلاتو سره مخامخ شوي او په هیڅ ډول اجتماعي سیستم او حکومتي
نظام کښې ئې حقیقي هوسائي نه ده موندلې او له همدې کبله یو ډله
خلک وائي: چه اوسني حالات د نړۍ په ډېرو قومونو کښې د اجتماعي
او سیاسي ښوونځیو له منځه وړلو لپاره ئې زمینه مساعده کړې او
دا ښوونځي ټول د ماتې او غورځېدو په حالت کښې دي حتی په هغو
هیوادونو کښې چه د هغوی نظام ټینګ ښکاري او داګمان کېږي
چه د دوی ظاهري آمادګۍ او وسائل به له دوی څخه دفاع وکړي
شي د وړ کېدو احتمال شته.

د ټبرونو او حکومتونو حقیقي هوسائي عسکر، ماشینداري
توپونه او ټانکونه او ذروي بمونه نشي پیدا کولای بلکه هغه ټولنه او
ټبر به پر خپل ځای پاتې وي چه د جامعي طبیعي اړتیاوې لرې او د



Marfat.com

تابعین ئې نه خوروي او په ځمکه کښې فساد او وراني نه کوي او په ټولنو او خلکو باندې تېرې کول روانه کړي، جنګ ونکړي، او په دښمنۍ باندې ئې لاس پورې نکړي، ځکه چه د اسلام او نظام بې له تېري کوونکو او وراني کوونکو څخه د هیچا سره نه ښلي.

موږ د غرب ناز نظام او اجتماعي سیستم د ټینګېدو وغوښتنه کوو، او اوس باید دا دې وپوښتل شي چه دولتونه او ټبرونه د داسې یو انساني نظام د جوړېدلو څخه د نړۍ په ټولو کښې ولیدل شي؛ په دې حال کښې چه د غرب رژیم به په وجداني شعورو احساساتو او په اخلاقي کلکو پایو باندې ټینګ ولاړ وي چه د اصولو ئې اجرا او عملي کول په باطن کښې یو باعث او محرك لري او یواځې په مادي نفوذ باندې اکتفا نکوي.

ځموږ په نظر کښې د غرب نظام جوړېدل د نړۍ په ټولو کښې د ټول بشریت له غوښتلو او ورکېدلو څخه د ساتنې ضامن دی. ځکه چه دا نظام به د جهاني ظلمت او تیاره په منځ کښې دیوې ځلاندې او روښانې منارې په شان وي چه د هغې په ذریعه لیار مینده کېدای شي او د صلحې او هوسائی ساحل ته رسېدای شي.

نن ورځ بشریت دیوې عجیبې دوې لیارې په سر کښې ولاړ



Marfat.com

اصولو سره برابروي، او په حقیقت کښې د دغه قانون نقش اولوبوي، د اقلیتونو په مقابل کښې، د هر بل قانون څخه، چه د اجتماعي ژوندون اصول برابر کوي، ښه او زیات دی. اسلامي اصول پخپله جنائي، مدني، تجارتي او بین المللي قوانین لري چه په اخلاقي او معنوي پایو باندې ولاړ دي او د ټولو ادیانو خاوندان هغه مني، نو ځکه، اسلامي قانون د مسیحیت او یهودیت روح ته له فرانسوي قانون څخه نژدې دی کوم چه نن ورځ ځمونږ په سر نوشت باندې حکومت کوي او زیاتره د پخواني روم د بت پرستۍ او مادیګرۍ په قانون باندې مستند دی، نه د مسیحیت په واقعیت . . .

نو که چیرته په اسلامي نظام کښې د عقیدې او د مذهبي دودونو د ترسره کولو آزادي، د داخلي ژوندانه د قانون آزادي او شخصي احوال تضمین شو، او د دغو آزادیو ساتنه د دغه نظام د پروګرام اساسي جزء وګرځید، او که د اسلامي شریعت مبادي او اصول، د نوي قانون ایښودنې لپاره د اسې اساسونه کښېښودل چه او سنیو قانون ایښودونکو پخپله، په دې خبره باندې اعتراف وکړ چه دا قانون او اصول د هغه مدني قانون څخه چه د پخواني روم له قانون او اصولو څخه پیدا شوي دي (او د غربي جوامعو که ملا تیرونو نې) ډېر ښه او لوړ دي، نو کله چه د ټولنې



Marfat.com

مونږ غواړو چه ټول خلک په اسلامي روزنې سره، وروزل شي،
لوړ او انساني اخلاق زده کړي او بیا ئې په کار واچوي، تر څو وکولای شي
چه قانون په بشپړ اخلاص سره اجرا کړي او په ښکاره او پټه کښې پاک
خدای ناظر او تماشاکوونکی وګڼي او په خپلو چارو کښې په یولوی هدف
او مرام پسې روان شي....

نو نظر دغه ته، په اسلامي ټولنه کښې به څه ضررونه اقلیتونو ته
ورسیږي شي؟... واقعي او آسماني ادیان هغه څیزونه غواړي چه
اسلام ئې غواړي. او هم د اسلام په شان دبشر روحي پاکوالي ته هڅه
کوي او ددې لپاره چه یوې لوړې مرتبې او خدائي او پورته مقام ته ئې
ورسوي راغلي دي...

اخوان المسلمين هم دا نه غواړي چه د اسلام قوله نړۍ چه
څمونږ لوی هیواد دی، د هر ډول استعمار له قیده څخه خوشې شي.
البته د اسلام له نظره د هر هیواد د خلکو وظیفه ده چه خپله ځمکه له
دغه استعمار څخه وساتي، او په دغه کار کښې یو له بل سره مرسته وکړي.

او مونږ نه پوهیږو چه څمونږ دا غوښتنې د هغو کسانو د پاره چه
د (ناسیونالیسم) د قومیت غوښتونکي دي څه تاوان لري؟ په دې
حال کښې چه اسلام د ناسیونالیزم ټول لوړ او انساني هدفونه او مرامونه



Marfat.com

داسلام دلیاړې بلونکي چه دبشپړې، او دهرې خوا تصفیې غوښتونکي دي او غواړي چه دې تصفیه کښې دفاروق دوړانیو او فسادونو ملګري او مرستونکي داخل وي (داستاد مطلب شاه فاروق و) دوی په خپله هېڅکله په یوه بر کوچنی جنایت او خیانت باندې لګرا او متهم نه وو، او نه دې حقیقت څخه هیڅ انکار نشته. مګر باید په دې باندې وپوهېدی شي چه څرنګه عوامل د دې خبرې باعث او سبب ګرځېدلي دي چه دخیانت ګروا سونه د تېرې او تورې دورې په شان په خپل خیانت کاره باندې بوخت دي او خپل کار ته ئې ادامه ورکړې ده! ... ولې خیانت کار او مغلوب حزبونه د «تصفیې» په موضوع کښې مخالفت کوی، او د عفوې او اغماض غوښتونکي دي؟ ولې هغوی دعادلانه قصاص او جزا څخه، له پاکې او رڼا څخه، د مفسدینو په باره له په ځایه علت څخه، په هر مقام او رتبه کښې چه وو، او هره وظیفه ئې چه لرله او په هره اندازه پیسې او ثروت چه لري، طرفداري نکوی او د «تخفیف» او «ببښلو» غوښتونکي دي!.

داسلام دلیاړې د بلونکو او دعوت ورکوونکو روح، هېڅکله په ارستوکراسۍ او کاذب اشرافیت، او طبقاتي امتیازاتو



Marfat.com

لاس ته راوستلي دي. اوله دې کبله دولتي اداره - بزګره طبقه د
مربتوب په ډول استعمال کړې ده د ځمکو خاوندان او بزګران ئې
له خپل مشروع حق څخه بې برخې او محروم کړې دي. او هم دا سبب دی
چه اخوان المسلمین د ځمکو د مالکيت د معلومولو، د مالک او اجاره دار
په منځ کښې د رابطې د ټرنګه والی او کيفيت د معلوميدلو تقاضا کوي او
د مزارعې د هغې طريقې د اجرا کيدلو غوښتونکي دي چه د اسلامي مقرراتو
او احکاموسره برابره او د اسلامي اجتماع د عدالت ضامن دي...
هغوی دا عقيده لري چه دا ډول نقدي يا قرضي اجاره - خلک د
پور د درونده پيټي لاندې راوستلي او په اجاره دارانو باندې له
اندازې زياتي ظلم او زور روا کښي او بايد چه تغير ومومي.

---

دا هغه خبره ده چه د خدای حزب ئې وائي: اوس دی وکتل
شي چه نور خلک څه وائي! ... هغوی داوسني فردي مالکيت په مقابل
کښې پټه خوله نيولې ده - د دې لپاره چه خپل ځانونه ئې هم په خطر کښې
دي، او د دې لپاره چه هغوی پخپله د خلکو وينې ځبښلي دي او
د دې لپاره چه هغوی پخپله - داسې فئودالان دي چه اوسني مصر
غواړي د هغوی له بدبختۍ څخه خلاص شي او د ناآرامۍ او خپګان او



Marfat.com

دې ځنې کومه وسيله مينده کړم. تر هغه ځايه پورې چه ممکن وي،
له هغوی سره به همکاري او مرسته وکړم.

ما د اسلام تر لوی بيرغ لاندې خپله وړوکې نقشه عملي کړه
او دې نقشې ته مې په دې احساس سره او دې بيرغ په سيوري کښې:
چه د عدالت د خپرولو دپاره د مبارزې بيرغ دی، او د دې مفکورې
لپاره متعدد اوږدې مېنې او ميدانونه لرئ ادامه ورکړی ده.
او په دې ټولو احوالو کښې، په حقيقت کښې د اسلام په سيوري کښې
او سېدلی يم او هم د اسلام دی چه د ټولو آزادی غوښتونکو تمدنونو
ملاتړ دی او د انساني مبارزې ټول ميدانونه معظم کښې او د انساني
عزت د لوړوالي دپاره هر ډول دعوت له ځ شامل دی او د دائرې
او لمنې د پراخوالي او هدف د يووالي او د ايماني حرارت له لحاظه
په ټولو مکتبونو باندې امتياز او لوړوالي لري.

نن ورځ - د زمانې موږ او تېر بدل د دې مطلب رښتيا والي
او صدق ثابتوي او ټولو ته دا خبره روښانه او ښکاره کوي، چه اسلام
څرنګه د ټول لوی هدفونه او ارمانونه له ځان سره لري او څرنګه په
ډېر کوښښ او جدي ډول سره غواړي چه اسلامي هيواد د تېرې
کوونکو او ناولو، فرصت لټوونکو، سودخوړو اشغالګرو او استعمارګرو



Marfat.com

# يوازې يوه ليار!

مونږ مجبور يو چه خپل ځان ته يواځې يوه ليار غوره کړو.

مونږ په خپل بين المللي تګ کښې بې له دغې ليارې څخه بله ليار

په مخکښې نلرو او هغه کسان چه ګمان کوي مونږ ګولای شو چه

په څو لياره ولاړ شو او وروسته بيا له هغو څخه يوه ليار ځانته

غوره کړو، د زمانې په منطق او د واقعيت او د اوضاعو د طبعت ...

په پوهيدلو کښې اشتباه کوي.

مونږ مجبور يو چه ځان د پاره يو بيرغ خوښ کړو او د هغه تر

سيوري لاندې، د هغو قومونو سره چه د هغه په سيوري کښې

دي په اتفاق يو له بل سره يو ل شو او هيڅ کله د انشو ګولای

چه په يواځې ډول او له نورو څخه بيل تړوند وکړو او يا د هغه

اړدوګاه سره يو ځای شو چه د هغه وخت تېر شوی او د نړۍ خوا

پېرې په مونږ باندې خاتمه کښې اېښود ل شوې دي!



Marfat.com

دا هیوادونه ټول اسلامي خاورې دي او دلویدیځ استعمار د ټيټو منافعو د پاره، چه دهغه ټول غړي ځموږ په ضد باندې یوله بل سره مرسته لري، په ځنځير تړل شويدي او ددغو هيوادونو په هرځای کښې چه د استعمار او پردیو اشغالگرو په مقابل کښې ملي مبارزه شروع شویده، دلویدیځ نورو استعماري هیوادونو خپلو ملگرو سره مرسته کړې او ځموږ ملتونه ئې تهديد او سرزنش ورکړيدی.

دانګلستان، فرانسې، ایتالیې او هالند استعمار، په اسلامي خاوروکښې، دآزادي بښونکو حرکتو په محوکولو کښې يواځې اقدام نکوی، بلکه دامریکې او دهغه د ډالرونو، تانکونو او الوتکو په مرسته او دهغې د بین المللی نفوذ په ملتيا دمسلمانو ټولنو په مقابل کښې ورځي، او دا هغه حقیقت دی چه موږ خلک وربانډی ښه پوهيدلي يو، که څه هم دامریکې تبليغاتي قواوې په ختيځ کښې کوښښ لري چه موږ وغولوي تر څو موږ ددغه حقیقت څخه پټې سترگې تېر شو.

څومره پوخ او ماهر دی هغه څوک چه کوښښ کوي موږ ددغه استعماري اتحادیې په څرخ پورې وتړي؟ تر څو چه په لکونو خپل رهبدلي خوانان هغه ته ورو سپارو او له دغو څخه دفالتو او ذخيره وي جنگی

## د ختيځ اتحاديه:

يوه ډله له هغو کسانو څخه چې غواړي مونږ د غربي امپرياليسم منګولو څخه په هر وسيله چې وي خلاص شو، د شرقي اتحاديې خواته ځغاړوي، مګر مونږ په دغه لويه خاوره کښې، داوضع هم په شدت سره رد کوو.

مونږ نه غواړو چې د خپلې خاورې آزادي، د خپل روح د مرتبې په قيمت باندې لاس ته راولو - مونږ نه غواړو چې خپله عقيده او طرز د فکر په دې ليارې خرچ کړو، په داسې حال کښې چې مونږ د آزادي او خلاصي مينډلو لپاره بله ليار لرو.

ځمونږ په خاورو کښې هيڅکله داسې مسلمان نه پيدا کيږي چې د کمونيسم مسلک ومني ترڅو کمونيسم، د مسلمان او يا د بلې هرې مذهبي عقيدې خاوند چې وي، سره تکوي او له منځه ئې يوسي لکه چې په شوروي، کمونستي چين، ختيځ او لويديځ ترکستان کښې ئې له منځه وړيدي.

ځمونږ په سيمو خاورو کښې د کمونيسم طرفداران يوه لږه ډله ده او هر څومره چې کوښښ هم وکړي او يا مرسته ورسره وشي، همدغسې به په اقليت کښې پاتې شي، ددې لپاره چې د کمونيسم مذهب ځمونږ په نظر يو غير طبيعي مذهب دی او څنګه چې مونږ ورته هيڅ دول اړتيا نلرو، نو ځمونږ خاوره به دهغه د نړيوالي او ترقي د پاره مساعده نه وي.



Marfat.com

مونږ ټولې دداسې يو اجتماعي مذهب او ښوونځي ښېښتن يو چه

دقدرت ، عدالت ، دانساني احترام او په اوس وخت کښې ځمونږ د ارتيا وو

او ډېټول بشريت د ارتياوو د لېرې کولو له حيثيته ځني دماتريالېسم په

ښوونځي باندې چه کمونيسم دهغه پر پاپې ولاړ دی ، تفوق او ځکوالي لري

او له همدغه کبله ، دکمونيسم غوښتونکي به هم په رنګه په اقليت کښې پاتې

شي ځکه چه هغوی دداسې مذهب او ښوونځي تبليغ کوی چه ځمونږ

په هيوادو کښې پردی دی . . داسې ښوونځي او مذهب چه هيڅ

ډول ارتيا هغه ته نلرو او هيڅ ډول ضرورت هم نشته چه دهغه

وجود ايجاب کړې ، او البته اجتماعي ښوونځي يو اځې په هغې تو لېښ

کښې پيدا کيدلای شي چه دپيدا کيدلو ضرورت او ارتيا دهغو

ايجاب او غوښتنه وکړي .

برسيره پر دې باندې ، مونږ دانه غواړو چه دتصفيې

او دوژلو ځايونو ته چه په کمونستي هيوادونو کښې دمذهبي عقيدو

دخاوندانو لپاره موجود دی ، راو بلل شو ، مونږ داغواړو چه ژوندي

اوسو ، تر څو هغه چارې او انساني وظيفې چه په غاړه لرو عملي کړو !

مونږ دکمونيسم په مقتل کښې دوژلو او قربانۍ مينه نه لرو ! ...

دمتاسفانه سيد قطب په يو اسلامي مملکت کښې چه دکمونستي



Marfat.com

سیوري پرې پروت و، پرته له کومې ګناه څخه په دا روزنه ول شو.

ګواکې ده فکر نه کاوه چه مسلمان به ده سره دغه رویه وکړي) "مترجم"

نوله دغه کبله، موږ بې له دې څخه چه پخپله ځانته یوه درېیم

اړ دوګاه منځ ته راولو بله چاره او لیاره نلرو، موږ نشو کولای چه هغه

منطقوي او متروک ناسیونالیسم یا دعربي محدود ناسیونالیسم

په چوکاټ کښې، په یوازې ډول تروند وکړو، او همدا رنګه موږ نشو

کولای چه له دغو دواتحادیو څخه په یوې پوري و نښلو چه دواړه یوله

بله سره ځموږ دچپاولو او ورکولو دپاره نښتي او جنګونه لري، او

هره یوه غواړي چه ژر تر ژره لاس ومومي او موږ غونډ وته په پخپلې

ښېټې کښې ځای ورکړي! ... نوموږ بې له درېیمې لیارې څخه، بله

لیاره په مخکښې نلرو او په واقع کښې چپل تروند ته ددوام ورکولو دپاره

یوازې یوه لیاره غوره کولی شو، او هغه اوبنائې چه دعربي او منطقوي تنګ

متروک ناسیونالیسم لیاره هبوونکې او سانونکې، ددوی په خپل

حال پرېږدو تر څو چه دخوانیو پیرېدو په چټې خیالونو باندې خوښ

او سي. او دانتلسمي او نولسمي پیړیو او هام هغوی خوشحال وکړي،

ځکه داسې کسان چه د زړو او خوانیو خرافاتو سره مشغولیت لري

ډېر دي! ...



Marfat.com

مخالف عمل کوي او د مسلمانانو تولني په ضد جګړه شوې دی . . .

د اسلام جنګ داسي جنګ ندی چه وړانوونکي او مفسد سرمایه داران ، د خپلو جنګي او جهنمي وسلو د خرڅولو لپاره د انسانانو او تمدنونو او ښارونو او د انساني اخلاقو او فضائلو د ورکولو او له منځه وړلو سره ، هغه منځ ته راولي . او همداړنګه داسي جنګ ندی چه د کارتلونو او محتکرو استونه ، خارجي شرکتونه او اتحادیې د خپلو منافعو د ساتني او حمایې د پاره په استعمار شویو هیوادونو کښي ، او د خامو موادو او د هغو د طبیعي او بشري منابعو د ورکولو لپاره ، او خپلو مصنوعاتو او تولیداتو ته د بازار د پیدا کولو لپاره د هغه چاري اداره کوي !

د اسلام جنګ ، داسې جنګ ندی چه د هغه هدف او مرام د ملتونو له شاؤخوا څخه د پوخ او پولادي دیوال تاوول او پیدا کول وي تر څو چه ، هغوی د پوهنې او معرفت او تمدن څخه لیرې پاتې شي او د نیول شویو هیوادونو وګړي ړانده او کاڼه او ګونګ پاتې شي او په خوارۍ او سپک والي سره ، د تسلیم او ناپوهۍ په کنده کښي ، د وژلو میدان ته وزغلول شي !

د اسلام جنګ ، هغسې جنګ ندی چه د هغه اور ، د غرب وحشیانه تمدن د بشریت پر ضد او د خپلې مادي ګټي او نژادي



Marfat.com

ملتونو په منځ کښې شور ماشور او کړو وړې او ناآرامي وجود لري، د ز
نښته او علامه نه ده، بلکه د نوي ژوندون او ښېګړې ولېښ والي لپاره
د ټکان خوړلو علامه ده!... د ویښېدلو علامه دي او دا وند او د خوب
څخه ورسته... او البته راتلونکې زمانه د مسلماني ټولنې دوره ده او ټول د تل
او ښباني د دغه روښان او ځلانده راتلونکې زېرې موږ ته راکوي.

د خبرې لنډیز دا: چه بې له عقیدې څخه! به هیڅ یو جنګ او جهاد
وجود و نلري. بې له عقیدې ځخنې به ژوندون کوم مفهوم پیدا نکړي.
بې له عقیدې ځخنې، به انسانیت خپل اصلي او حقیقي ماهیت له لاسه ورکړي...

موږ له ډېر و مودو څخه مخکښې د دغو مطالبو ښکاره ونه او اظهار
کړی او یوه ناپوهه او بې اهمیته ډله په موږ پورې خندلې ده، مګر نن وخت
موجوده حقایق او جریانونه ځموږ د وینا د صحت تصدیق کوي. نو که
چېرته کوم چټي غږېدونکي، چټي او پرته وکړېږي او بې اړه ښتنه سره
په خپل قلم سره په چټیاتو لاس پورې کړي، نو دا کار په حقیقت کښې په هره زمانه
او هر ځای کښې، د لایعني او سپکو کسانو د باطني غم او خپګان
علامه العمل دي!!

خالي لري دي او راتلونکې زمانه د اسلام ده....

ذخیره



Marfat.com

